مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

مصطفی پسرلی
۲۰۱۹/۰۳/۲۲

# غزل

د زړه دردونو نه غزل جوړوم
د تورو کږېنو تاج محل جوړوم

کږېنې د لاس او د نصیب نه منم
د رسېدو لاره په چل جوړوم

نه ګنج، نه مال، نه خزانې لرمه
په تصوُر د درتلو پل جوړوم

زه مینه پېژنم، هوس پېژنم
په مینه تا د ژوند منزل جوړوم

چې سترګې تورې کړې ما ووژنې پرې
وره کوم تیرې ترې کجل جوړوم

زه پسرلی یمه ګلونه راوړم
باغ د سازونو د بلبل جوړوم

مصطفی پسرلی
21/03/2019


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ